مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدسمیع صادق
۲۰۲۶/۰۶/۰۸

# تابلو

## قصه په سلو ټکو کي

په یوه نړیوال هنري ننداړتون کي د یوه انځور د رنګونو جادو، د کرښو منتر او د موضوع طلسم دومره محسور کړم چي بېخوده له شا و خوا بېګانه سوم. تابلو د غویي پر سر د مېټاډور د توري د وروستي ضرب صحنه وه.

پر اوږه مي د یو چا لاس وجد را مات کړ. ول:

«دا زما اثر دئ، نه پوهېږم انسان څنګه د ژوندي موجود درد د ساعتېری ننداره ګرځوي، حیوان وژني؟ ته د کوم هېواد يې؟ هلته هم داسي سیالۍ سته؟»

ما ول:

«هو، خو زموږ ډګرونه تر دې ډېر لوی دي، او شاهکارونو ته کېنوس تنګ.»

محمدسمیع صادق


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ